**دافغانستان اسلامی جمهوریت**

**دعدلیي وزارت**

# رسمی جریده

- دپوهنتونونو مالی د خپلواکتوب مقرره
- مقرره استقلالیت مالی پوهنتون ها
- د بغلان دبوری(شکر)دشرکت اساسنامه
- اســاسنامه شــرکت شکر بغلان

دخپریدو نیټه د ۱۳۹۲هـــ.ش کال د لیندۍ دمیاشتی (۲۰) پرله پسی نمبر (۱۱۲۳)

تاریخ نشر : ( ۲۰)قوس سال ۱۳۹۲هـــ. ش نمبرمسلسل (۱۱۲۳)

**در این شماره :**


۱- **مقرره استقلالیت مالی پوهنتون ها** از صفحه **(۱-۸)**.

۲- **اساسنامه شرکت شکر بغلان** از صفحه **(۹-۴۵)**



**د امتیاز خاوند : دعدلیی وزارت**

مسؤل چلوونکی : قانونمل محمدرحیم "دقیق"

**۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷**

**ددفتر تیلفون : ۰۷۵۲۰۵۲۷۰۹**

**مرستیال : نور علم ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸**

**مهتمم: محمدجان ۰۷۸۳۳۰٦۹۸۲**

**ویب سایت :** www.moj.gov.af

**قیمت این شماره : ............................ .. .......(۴۰) افغانی**

**تیراژ چاپ اول :................................ . ....(۳۰۰۰)جلد**

**آدرس :وزارت عدلیه ، ریاست نشرات ، چهارراهی پشتونستان ، کابل**

**دپوهنتونونو دمالي خپلواکتوب**
**دمقررې د نافذېدو په هکله،**
**دافغانستان داسلامي جمهوريت**
**د وزيرانو شورې**
**مصوبه**

ګڼه:(۲٦)
نېټه:۱۳۹۲/۷/۱۵

دپوهنتونونو دمالي خپلواکتوب مقرره چې د افغانستان داسلامي جمهوريت د وزيرانو شورې د ۱۳۹۲/۷/۱۵ نېټې په غونډه کې، په (۳) فصلونو او (۱٦) مادو کې تصويب شوې ده، منظوروم.

دغه مصوبه له نوموړې مقررې سره يوځای د تصويب له نېټې څخه نافذه او په رسمي جريده کې دې خپره شي.

**حامد کرزی**
**دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس**

**مصوبۀ**
**شورای وزيران جمهوری اسلامی افغانستان**
**درمورد انفاذ مقررۀ استقلاليت مالی پوهنتون ها**

شماره:(۲٦)
تاريخ: ۱۳۹۲/۷/۱۵

مقررۀ استقلاليت مالی پوهنتون ها راکه درجلسۀ مؤرخ ۱۳۹۲/۷/۱۵شورای وزيران جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۳) فصل و(۱٦) ماده تصويب گرديده، منظور می دارم.

اين مصوبه همراه با مقررۀ مذکور از تاريخ تصويب نافذ و درجريدۀ رسمی نشر گردد.

**حامد کرزی**
**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

## فهرست مندرجات

## مقررهٔ استقلالیت مالی پوهنتون ها

## فصل اول

## احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ اول: | منظوروضع | ۱ |
| مادهٔ دوم: | اهداف | ۱ |

**فصل دوم**

**امور مالی**

| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ سوم: | استقلالیت مالی | ۲ |
| مادهٔ چهارم : | بودجهٔ پوهنتون | ۳ |
| مادهٔ پنجم: | وجوه مالی عرضهٔ خدمات | ۳ |
| مادهٔ ششم : | افتتاح حساب بانکی | ۴ |
| مادهٔ هفتم: | هیئت امناء | ۴ |
| مادهٔ هشتم: | مصارف | ۵ |
| مادهٔ نهم: | انتقال وجوه مالی | ۵ |
| مادهٔ دهم: | توسعه و انکشاف | ۶ |
| مادهٔ یازدهم: | حق الاجرت (فیس) | ۶ |
| مادهٔ دوازدهم: | امتیاز تشویقی | ۷ |

## فصل سوم

## احکام نهائی


مادهٔ سیزدهم: ارایهٔ گزارش........................................۷

مادهٔچهاردهم: مراقبت و نظارت....................................۸

مادهٔ پانزدهم: وضع لوایح و طرزالعمل ها ..........................۸

مادهٔ شانزدهم : انفاذ...............................................۸

## د پوهنتونونو د مالي خپلواکتوب مقرره

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**د وضع کولو منظور**

**لومړۍ ماده:**

دغه مقرره د علمي او مسلكي خدمتونو له وړاندې کولو څخه د راپيداشوو عوايدو د راټولولو، د اشخاصو د مرستو د راجلبولو او د دولتي پوهنتونونو په پراختيا او پرمختګ کې د هغو په لګولو پورې د اړوندو چارو د تنظيم په منظور وضع شوې ده.

**موخې**

**دوه يمه ماده:**

ددې مقررې موخې عبارت دي له:

۱- د طبيعي او ټولنيزو علومو په برخو کې د دولتي پوهنتونونو د علمي او مسلكي خدمتونو پراختيا او پرمختګ.

۲- د علمي څېړنو د پرمخ بيولو او د پوهنتونونو د پراختيا او پرمختګ لپاره د

## مقررۀ استقلالیت مالی پوهنتون ها

## فصل اول

## احکام عمومی

**منظور وضع**

**مادۀ اول:**

این مقرره به منظور تنظیم امور مربوط به جمع آوری عواید ناشی از عرضۀ خدمات علمی و مسلکی، جلب کمک های اشخاص و مصرف آن در توسعه و انکشاف پوهنتون های دولتی وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

اهداف این مقرره عبارت اند از:

۱- توسعه و انکشاف خدمات علمی و مسلکی پوهنتون های دولتی در عرصۀ علوم طبیعی و اجتماعی.

۲- بدست آوردن منابع مالی و عواید برای پیشبرد تحقیقات علمی و توسعه و

مالي سرچينو او عوايدو لاسته راوړل.

۳- د دولتي پوهنتونونو بودجوي او علمي خپلواكتوب.

۴- د اشخاصو د مرستو د راجلبولو، د بانكي حساب د پرانستلو او د هغو د لګولو د ډول د زمينې برابرول.

## دوه يم فصل

## مالي چارې

**مالي خپلواكتوب**

**درېيمه ماده:**

(۱) مالي خپلواكتوب كاري حُجم، لوړ مالي او اداري ظرفيت او تخصصي او تخنيكي اهليت ته په پام، په تدريجي او پړاويز ډول په هغو پوهنتونونو كې عملي كېږي چې د خپلواكې بودجې لرونكې وي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره كې درج شوي پوهنتونونه مكلف دي، په خپلو مالي اجراآتو كې د نافذو قوانينو حكمونه، ددې مقررې حكمونه او د هېواد مالي اصول په پام كې ونيسي.

(۳) د پوهنتونونو مالي خپلواكي په

انكشاف پوهنتون ها.

۳- استقلاليت بودجوی و علمی پوهنتون های دولتی .

۴- فراهم آوری زمينهٔ جلب كمک های اشخاص، افتتاح حساب بانكی و طرز مصرف آن .

## فصل دوم

## امور مالی

**استقلاليت مالی**

**مادهٔ سوم:**

(۱) استقلاليت مالی نظر به حجم كاری، ظرفيت بالای مالی و اداری و اهليت تخصصی و تخنيكی بصورت تدريجی و مرحله وار در پوهنتون هايی عملی می گردد كه دارای بودجهٔ مستقل باشند.

(۲) پوهنتون های مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده مكلف اند دراجراآت مالی شان احكام قوانين نافذ، احكام اين مقرره و اصول مالی كشور را رعايت نمايند.

(۳) استقلاليت مالی پوهنتون ها

وروستنيو پړاوونو کې د لوړو زده کـړو وزارت په وړانديز او د لوړو زده کړو د مؤسسو د عالي شوري په تصويب صورت مومي.

## د پوهنتون بودجه

**څلورمه ماده:**

د لوړو زده کړو وزارت مکلــف دی، د کلنۍ بودجې د ترتيبولو په وخت کې، د هغو خپلواکو پوهنتونونو بشپړه بودجه چې د مالي خپلواکتوب لرونکــي ګرځــي، وټاکي او جلا يې کړي.

## د خدمتونو د وړاندې کولــو مــالي وجوه

**پنځمه ماده:**

(۱) د علمي او مسلکي خــدمتونو لــه وړاندې کولو څخه راپيدا شوي عوايد د اړوند مالي واحد پــه واســطه راټــول، مشخص او د دولت د وارداتو په حساب کې بانک ته تحويلېږي.

(۲) د ماليې وزارت مکلــف دی، ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي عوايد، د مالي خپلواکتوب لرونکو پوهنتونونو د

درمراحل بعدی بــه پيشـــنهاد وزارت تحصيلات عالی و تصويب شورای عالی مؤسسات تحصيلات عــالی صــورت می گيرد.

## بودجۀ پوهنتون

**مادۀ چهارم:**

وزارت تحصيلات عالی مکلف اســت، حين ترتيب بودجۀ سالانه، بودجۀ مکمل پوهنتون های مســتقل را کــه دارای استقلاليت مالی می گردند، معين وجدا سازد.

## وجــــوه مـــــالی عرضـــــۀ خدمات

**مادۀ پنجم:**

(۱) عوايد ناشی از عرضۀ خدمات علمی و مسلکی توسط واحد مــالی مربــوط جمع آوری، مشخص و بــه حســاب واردات دولـــت تحويـــل بانـــک می گردد .

(۲) وزارت ماليه مکلف است، عوايــد مندرج فقرۀ (۱) اين ماده را در بودجۀ سال بعــدی پوهنتــون هــای دارای

وروستي کال په بودجه کې پر اصل بودجې باندې ور زيات کړي.

## د بانکي حساب پرانستل

**شپږمه ماده:**

(۱) هغه علاقه لرونکي کورني او بهرني حقيقي او حُکمي اشخاص چې نه غواړي د هغوی مرستې د ملي بودجې له لارې ولګول شي، کولای شي له مالي خپلواکتوب لرونکو پوهنتونونو سره مستقيماً مرسته وکړي.

(۲) د مالي خپلواکتوب لرونکي پوهنتونونه مکلف دي، ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو مرستو د راجلبولو په منظور، د ماليې وزارت په موافقه بانکي حساب پرانيزي.

## امناء هيئت

**اوومه ماده:**

(۱) د عوايدو د راټولولو، د کورنيو او بهرنيو حقيقي او حُکمي اشخاصو د مرستو د راجلبولو او د هغو د لګولو په منظور، د مالي خپلواکتوب لرونکو پوهنتونونو د اړوندو پوهنځيو په کچه د

استقلاليت مالی بر اصل بودجه علاوه نمايد.

## افتتاح حساب بانکی

**مادۀ ششم:**

(۱) اشخاص حقيقی و حکمی داخلی و خارجی ذيعلاقه که نخواهند کمک های شان از طريق بودجۀ ملی به مصرف برسد، می توانند به پوهنتون های دارای استقلاليت مالی مستقيماً کمک نمايند.

(۲) پوهنتون های دارای استقلاليت مالی مکلف اند، به منظور جلب کمک های مندرج فقرۀ (۱) اين ماده به موافقۀ وزارت ماليه، حساب بانکی افتتاح نمايند.

## هيئت امناء

**مادۀ هفتم:**

(۱) به منظور جمع آوری عوايد، جلب کمک های اشخاص حقيقی وحکمی داخلی وخارجی ومصارف آن، هيئت امناء، درسطح پوهنځی های مربوط پوهنتون های دارای استقلاليت مالی به

امناء هيئت په لاندې ترکيب جوړيږي:
- د پوهنځي رئيس.
- د ډيپارتمنتونو آمرين.
- د اړوند ډيپارتمنت د مجلس په ټاکنه له هر ډيپارتمنت څخه يو تن استاذ.
(۲) د امناء هيئت د فعاليت ډول د هغې جلا کړنلارې په واسطه چې د لوړو زده کړو وزارت لخوا تصويبيږي، تنظيمېږي.

## لګښتونه

اتمه ماده:

اړوند پوهنځی مکلف دی، د علمي، مسلکي او څېړنيزو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره لګښتونه او مالي وجوه د مالي اصولو مطابق اټکل او د منظورۍ لپاره يې د پوهنځي امناء هيئت ته وړاندې کړي.

## د مالي وجوهو لېږدول

نهمه ماده:

(۱) د پوهنتونونو بانکي حساب ته د مالي وجوهو لېږدول د امناء هيئت په واسطه تصديقيږي.

(۲) د علمي، مسلکي او څېړنيزو اړتياوو

ترکيب ذيل ايجاد می گردد:
- رئيس پوهنځی .
- آمرين ديپارتمنت ها .
- يک نفر استاد از هر ديپارتمنت به انتخاب مجلس ديپارتمنت مربوط.
(۲) نحوهٔ فعاليت هيئت امناء توسط طرزالعمل جداگانهٔ که از طرف وزارت تحصيلات عالی تصويب می گردد، تنظيم می شود .

## مصارف

مادهٔ هشتم:

پوهنځی مربوط مکلف است، مصارف وجوه مالی برای عرضهٔ خدمات علمی، مسلکی و تحقيقی را طبق اصول مالی تخمين و آنرا جهت منظوری به هيئت امناء پوهنځی ارايه نمايد.

## انتقال وجوه مالی

مادهٔ نهم:

(۱) انتقال وجوه مالی به حساب بانکی پوهنتون ها توسط هيئت امناء تصديق می گردد.

(۲) مصرف وجوه مالی مندرج فقرهٔ

د لرې کولو لپاره ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو مالي وجوهو لګښت د پوهنځي د امناء هيئت په واسطه څارل کېږي او نوموړی هيئت له خپلو اجراآتو څخه مسئول دی.

## پراختيا او پرمختګ

**لسمه ماده:**

اړوند ډيپارتمنتونه او پوهنځي مکلف دي، د فعاليتونو د پراختيا او پرمختګ په منظور، خپلې ټاکلې اړتياوې تثبيت کړي او مشخصه بودجه د لاسته راغلو مالي وجوهو له په پام کې نيولو سره اړوند امناء هيئت ته پيشنهاد کړي.

## حق الاجرت (فيس)

**يوولسمه ماده:**

د علمي، مسلکي او څېړنيزو خدمتونو د وړاندې کولو حق الاجرت (فيس) د موادو، بشري ځواک، د وسايلو او تجهيزاتو د استهلاک او نورو خدماتي امکاناتو (برېښنا، اوبو، ګازو او هغو ته ورته) له په پام کې نيولو سره، د هغې جلا لايحې په واسطه چې د پوهنتون د امناء

(۱) اين ماده براى رفع نيازمندى هاى علمى، مسلکى و تحقيقى توسط هيئت امناء پوهنځى نظارت گرديده و هيئت مذکور از اجراآت شان مسئول مى باشند.

## توسعه و انکشاف

**مادۀ دهم:**

ديپارتمنت ها و پوهنځى هاى مربوط مکلف اند به منظور توسعه و انکشاف فعاليت ها، ضرورت هاى معين خويشرا تثبيت نموده و بودجۀ مشخص را بانظرداشت وجوه مالى بدست آمده به هيئت امناء مربوط پيشنهاد نمايند .

## حق الاجرت (فيس)

**مادۀ يازدهم:**

حق الاجرت(فيس)عرضۀ خدمات علمى، مسلکى و تحقيقى بانظرداشت مصارف مواد، نيروى بشرى،استهلاک وسايل وتجهيزات و ساير امکانات خدماتى (برق، آب، گاز و امثال آن) توسط لايحۀ جداگانه که توسط هيئت امناء پوهنتون تصويب مى شود، تنظيم

هیئت لخوا تصویبېږي، تنظیمېږي.

**هڅه ییز (تشویقي) امتیاز**

**دوولسمه ماده:**

په مالي خپلواکتوب لرونکو پوهنتونونو کې د علمي او مسلکي اشخاصو د هڅولو او په اړوندو څانگو کې د هغوی د علمي او مسلکي پوهې د کچې د لوړولو او د علمي او مسلکي خدمتونو د ښه وړاندې کولو په منظور، هڅه ییز امتیاز د هغې جلا لایحې په واسطه چې د امناء هیئت لخوا تصویبېږي، اټکل کېږي.

## دریم فصل

## وروستني حکمونه

**د رپوټ وړاندې کول**

**دیارلسمه ماده:**

(۱) د مالي خپلواکتوب لرونکو پوهنتونونو اړوند پوهنځي مکلف دي، د عوایدو د راټولولو، بانکي حساب او لگښتونو له چارو څخه په میاشتني توگه د پوهنتون علمي شوري ته رپوټ وړاندې کړي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج

می گردد .

**امتیاز تشویقی**

**مادهٔ دوازدهم:**

به منظور تشویق اشخاص علمی و مسلکی در پوهنتون های دارای استقلالیت مالی و ارتقای سطح دانش علمی و مسلکی آنها در رشته های مربوط و عرضهٔ بهتر خدمات علمی و مسلکی، امتیاز تشویقی، توسط لایحهٔ جداگانهٔ که ازطرف هیئت امناء تصویب می شود، پیشبینی می گردد .

## فصل سوم

## احکام نهایی

**ارایهٔ گزارش**

**مادهٔ سیزدهم:**

(۱) پوهنځی های مربوط پوهنتون های دارای استقلالیت مالی مکلف اند، از امور جمع آوری عواید، حساب بانکی و مصارف آن، طور ماهوار به شورای علمی پوهنتون گزارش ارایه نمایند.

(۲) پوهنتون های مندرج فقرهٔ (۱) این

شوي پوهنتونونه مکلف دي، د عوايدو د راټولولو، بانکي حساب او لګښتونو لـــه چارو څخه په ربعواره توګه د لوړو زده کړو وزارت ته رپوټ وړاندې کړي.

مراقبت او څارنه

څوارلسمه ماده:

د لوړو زده کړو وزارت مکلف دی، پدې مقرره کې درج د مـــالي خپلواکتـــوب لرونکو پوهنتونونو د عوايدو د راټولولو، بانکي حساب او لګښتونو له چارو څخه، مراقبت او څارنه وکړي.

د لايحو او کړنلارو وضع کول

پنځلسمه ماده:

د لوړو زده کړو وزارت کولای شـــي، ددې مقررې د حکمونو د ښه تطبيقولو په منظور، لايحې او کړنلارې وضع کړي.

انفاذ

شپاړسمه ماده:

دغه مقرره د تصويب له نېټې څخه نافذه او په رسمي جريده کې دې خپره شي.

ماده مکلف اند، از امور جمـــع آورى عوايد، حسابات بانکى ومصارف آن طور ربعوار بـــه وزارت تحصـــيلات عـــالى گزارش ارايه نمايند.

مراقبت و نظارت

مادۀ چهاردهم:

وزارت تحصيلات عالى مکلف اســـت ازامور جمع آورى عوايد ، حســـابات بانکى و مصارف پوهنتون هـــاى داراى استقلاليت مالى منـــدرج ايـــن مقـــرره مراقبت ونظارت نمايد.

وضع لوايح وطرزالعمل ها

مادۀ پانزدهم:

وزارت تحصيلات عالى مى تواند، بـــه منظور تطبيق بهتر احکام اين مقرره لوايح و طرزالعمل ها را وضع نمايد.

انفاذ

مادۀ شانزدهم:

اين مقرره از تاريخ تصويب نافـــذ و در جريدۀ رسمى نشرگردد.

**د بغلان د بورې (شکر) د شرکت اساسنامې د انفاذ په هکله، دافغانستان د اسلامي جمهوريت د وزيرانو شوري مصوبه**

گڼه: (۱۱)

نېټه: ۱۳۹۲/۳/٦

**لومړۍ ماده :**

دبغلان دبورې (شکر) د شرکت اساسنامه چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د وزيرانو شوري د ۱۳۹۲/۳/٦ نېټې په غونډه کې په (۵) فصلونو او (۵۵) مادو کې تصويب شوې ده، منظوروم.

**دوه يمه ماده:**

دغه مصوبه له نوموړې اساسنامې سره يوځای دې، په رسمي جريده کې خپره شي.

حامد کرزی

دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس

**مصوبهٔ شورای وزيران جمهوری اسلامی افغانستان در مورد انفاذ اساسنامهٔ شرکت شکر بغلان**

شماره: (۱۱)

تاريخ: ٦/۳/ ۱۳۹۲

**مادهٔ اول:**

اساسنامهٔ شرکت شکر بغلان را که درجلسهٔ مؤرخ ۱۳۹۲/۳/٦ شورای وزيران جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۵) فصل و(۵۵) ماده تصويب گرديده است، منظور می دارم.

**مادهٔ دوم:**

اين مصوبه همراه با اساسنامهٔ مذکور در جريدهٔ رسمی نشر گردد.

حامد کرزی

رئيس جمهوری اسلامی افغانستان

## فهرست مندرجات اساسنامهٔ شرکت شکر بغلان


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| | **فصل اول** | |
| | **احکام عمومی** | |
| مادهٔ اول | :منظور وضع | ۹ |
| مادهٔ دوم : | اهداف | ۹ |
| مادهٔ سوم : | شخصیت شرکت | ۱۰ |
| مادهٔ چهارم: | نام اختصاری | ۱۰ |
| مادهٔ پنجم : | محل فعالیت | ۱۰ |
| مادهٔ ششم : | رعایت قوانین | ۱۰ |
| مادهٔ هفتم : | وظایف و مسئولیت ها | ۱۱ |
| | **فصل دوم** | |
| | **سرمایه و سهام** | |
| مادهٔ هشتم : | سرمایه | ۱۲ |
| مادهٔ نهم : | سهمداران | ۱۳ |
| مادهٔ دهم : | قبولی اموال منقول وغیرمنقول به حیث سهم | ۱۳ |
| مادهٔ یازدهم : | قیمت گذاری سهام | ۱۴ |
| مادهٔ دوازدهم : | انتقال سهام و توزیع مفاد | ۱۵ |
| مادهٔ سیزدهم : | استفاده از سرمایهٔ اصلی | ۱۵ |
| مادهٔ چهاردهم : | حساب بانکی | ۱۶ |

مادۀ پانزدهم : سرمایه گذاری............................۱۶
مادۀ شانزدهم : حقوق کارکنان................................۱۶
مادۀ هفدهم : مسئولیت در برابر تعهدات......................۱۷

فصل سوم

تشکیلات شرکت

مادۀ هجدهم : تشکیل..........................................۱۷
مادۀ نزدهم : مجمع عمومی سهمداران..........................۱۸
مادۀ بیستم : جلسات مجمع عمومی............................۱۹
مادۀ بیست ویکم: محل تدویر جلسات..........................۲۰
مادۀ بیست ودوم : انتخاب رئیس و منشی مجمع عمومی..............۲۰
مادۀ بیست وسوم : جلسات عادی مجمع عمومی ....................۲۱
مادۀ بیست وچهارم : جلسات فوق العاده مجمع عمومی ..............۲۱
مادۀ بیست وپنجم : رأی گیری در مجمع عمومی .............۲۲
مادۀ بیست وششم : ثبت تصاویب..............................۲۲
مادۀ بیست وهفتم : هیئت مدیره..............................۲۳
مادۀ بیست وهشتم : وظایف و صلاحیت های هیئت مدیره......۲۴
مادۀ بیست ونهم : جلسات هیئت مدیره........................۲۷
مادۀ سی ام : مسئولیت هیئت مدیره..........................۲۹
مادۀ سی ویکم : هیئت نظار..................................۲۹
مادۀ سی ودوم : وظایف و صلاحیت های هیئت نظار........۳۰
مادۀ سی وسوم : رسیدگی به شکایات..........................۳۳
مادۀ سی وچهارم : دعوت متخصصین..........................۳۳

مادۀ سی وپنجم : موانع عضویت............................۳۴
مادۀ سی وششم : هیئت عامل.................................۳۵
مادۀ سی وهفتم : رئیس هیئت عامل..........................۳۵
مادۀ سی وهشتم : جلسات هیئت عامل........................۳۶
مادۀ سی ونهم : وظایف و صلاحیت های هیئت عامل.........۳۶
مادۀ چهلم : مسئولیت هیئت عامل.........................۳۹

فصل چهارم

امور مالی وحسابی

مادۀ چهل ویکم : سال مالی..........................................۳ ۹
مادۀ چهل ودوم : تنظیم امور حسابداری.............................۴۰
مادۀ چهل وسوم : ترتیب بودجه.......................................۴۰
مادۀ چهل وچهارم : ذخایر احتیاطی...................................۴۱
مادۀ چهل وپنجم : کنترول امور مالی، حسابی و اداری..............۴۱
مادۀ چهل وششم : حصول گزارش......................................۴۲
مادۀ چهل وهفتم : مالیات..............................................۴۲

فصل پنجم

احکام متفرقه

مادۀ چهل وهشتم : انحلال وتصفیه.........................۴۳
مادۀ چهل ونهم : اسناد مدار اعتبار شرکت......................۴۳
مادۀ پنجاهم : حل منازعات.....................................۴۳
مادۀ پنجاه ویکم : استخدام متخصصین.........................۴۴
مادۀ پنجاه ودوم : منع افشای اسرار شرکت......................۴۴

مادۀ پنجاه وسوم : تعديل اساسنامه........................................۴۴
مادۀ پنجاه وچهارم : مهر و نشان........................................۴۵
مادۀ پنجاه وپنجم : انفاذ..................................................۴۵

## د بغلان د بورې (شکر) د شرکت اساسنامه

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**د وضع کولو منظور**

**لومړۍ ماده :**

دغه اساسنامه دبغلان دبورې شرکت په فعالیت پورې د اړوندو چارو د تنظیم په منظور وضع شوې ده.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

د بغلان د بورې شرکت د لاندې موخو د پلي کېدو په منظور فعالیت کوي:

۱- د لبلبو د نباتاتو د کرکېلې لپاره د بزګرانو هڅول.

۲- د تولید شوي لبلبو لپاره د ډاډمن بازار رامنځته کول.

۳- بورې ته د خلکو د یوې برخې اړتیا لرې کول او د هغې د وارداتو په کچه کې کمښت.

۴- د لبلبو د نباتاتو د بزګرانو د اقتصاد پراختیا او وده.

## اساسنامۀ شرکت شکر بغلان

## فصل اول

## احکام عمومی

**منظور وضع**

**مادۀ اول :**

این اساسنامه به منظورتنظیم امور مربوط به فعالیت شرکت شکر بغلان وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

شرکت شکر بغلان به منظور تحقق اهداف ذیل فعالیت می نماید:

۱- تشویق دهاقین برای زرع نبات لبلبو.

۲- ایجاد بازار مطمئن برای لبلبوتولید شده.

۳- رفع بخش از نیازمندی مردم به شکر و تقلیل در سطح واردات آن.

۴- توسعه و رشد اقتصاد دهاقین نبات لبلبو.

د شرکت شخصیت

دریېمه ماده:

د بغلان د بورې شرکت د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت په چوکاټ کې ددولتي سهامي شرکت په توګه جوړ او فعالیت کوي.

لنډ نوم

څلورمه ماده:

د بغلان د بورې شرکت پدې اساسنامه کې د شرکت په نامه یادیږي.

د فعالیت ځای

پنځمه ماده:

د شرکت مرکزي دفتر د صنعتي بغلان په ښار کې دی، اونمایندګۍ ئې له اړتیا سره سم په نورو ولایتونو کې جوړیدای شي.

د قوانینو په پام کې نیول

شپږمه ماده:

شرکت په خپلو فعالیتونو کې ددې اساسنامې او اړوندو نورو تقنیني سندونو حکمونه تطبیقوي او په پام کې نیسي.

شخصیت شرکت

مادۀ سوم :

شرکت شکر بغلان به حیث شرکت سهامی دولتی در چوکات وزارت زراعت، آبیاری و مالداری ایجاد و فعالیت می نماید.

نام اختصاری

مادۀ چهارم:

شرکت شکر بغلان دراین اساسنامه بنام شرکت یاد می شود.

محل فعالیت

مادۀ پنجم :

دفترمرکزی شرکت در شهربغلان صنعتی بوده، نمایندگی های آن عندالضرورت در سایر ولایات ایجاد شده می تواند.

رعایت قوانین

مادۀ ششم:

شرکت درفعالیت های خود احکام این اساسنامه وسایر اسناد تقنینی مربوط را تطبیق و رعایت می نماید.

**دندې او مسئوليتونه**

**اوومه ماده:**

شركت د اړوندو چارو د پرمخ بيولو په منظور، لاندې دندې او مسئوليتونه لري:

۱- په هېواد كې د لبلبو د نباتاتو د كركيلې پراختيا او معياري كول.

۲- د شركت د كرنيزو متخصصينو په واسطه د لبلبو د نباتاتو د بزګرانو لارښوونه.

۳- د لبلبو د نباتاتو د كيفيت او د حاصل وركونې د كچې د ښه والي په منظور د مسلكي او تخنيكي خدمتونو وړاندې كول.

۴- د لبلبو د نباتاتو د بذري تخم، كيمياوي سرې (كود) او د با كيفيته نباتي ناروغيو ضد درملو برابرول او وېشل.

۵- له بزګرانو او كوپراتيفونو سره د هغوی له كښت څخه دمخه د لبلبو د حاصلاتو د پيرودنې د قرارداد عقدول.

۶- دلبلبو پروسس كول او بورې ،

**وظايف ومسئوليت ها**

**مادهٔ هفتم :**

شركت به منظور پيشبرد امور مربوط، داراى وظايف ومسئوليت هاى ذيل مى باشد:

۱- توسعه و معيارى سازى زرع نبات لبلبو در كشور.

۲- رهنمائى دهاقين نبات لبلبو توسط متخصصين زراعتى شركت.

۳- عرضهٔ خدمات مسلكى و تخنيكى به منظور بهبود كيفيت و سطح حاصل خيزى نبات لبلبو.

۴- تهيه و توزيع تخم بذرى نبات لبلبو، كود كيمياوى و ادويهٔ ضد امراض نباتى با كيفيت.

۵- عقد قرارداد خريدارى حاصلات لبلبو با دهاقين و كوپراتيف ها قبل از كشت آنها.

۶- پروسس لبلبو و توليد شكر،

ميلاس (عضوي ماده) او له تفــالې څخه ئې د حيواني غذا توليدول.

۷- دتوليد شوې بورې او د شرکت دنورو محصولاتو بازار موندنه.

۸- د فابريکې د ماشين آلاتــو او تجهيزاتو او د شرکت د کرنيــزو ماشين آلاتو ساتنه او څارنه.

۹- د شرکت اقتصادي او مــالي موخو ته د لاس رسۍ لپاره د نــوو ستراتيژيو طرح کول او تطبيقول.

۱۰- ددې اساسنامې د حکمونــو مطابق د نورو فعاليتونو ترسره کول.

## دوه يم فصل

## پانګه او ونډې

پانګه

اتمه ماده:

د شرکت لومړنۍ پانګه پنځه ســوه څلــــور شـــپيته ميليونــــــه (۵٦۴۰۰۰۰۰۰) افغانۍ يا د هغې معادل په بهرنيو اسعارو وي.

ميلاس (مادهٔ عضــوی) و غــذای حيوانی از تفاله آن.

۷- بازاريــــابی شــــکر توليـــــد شده و سايرمحصولات شرکت.

۸- حفظ و مراقبت ماشين آلات و تجهيزات فابريکه و ماشــين آلات زراعتی شرکت.

۹- طرح وتطبيق استراتيژی هــای جديد برای دستيابی بــه اهــداف اقتصادی و مالی شرکت.

۱۰- انجام سایر فعالیت ها مطابق احکام اين اساسنامه.

## فصل دوم

## سرمايه و سهام

سرمايه

مادهٔ هشتم :

سرمايهٔ ابتدائی شرکت مبلغ پنجصدو شصــــــت وچهــــــــارميليون (۵٦۴۰۰۰۰۰۰) افغانی يا معادل آن به اسعار خارجی می باشد.

<u>ونډه وال</u>

نهمه ماده:

د شرکت لومړني ونډه وال په ترتيب سره عبارت دي له:

۱- د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، په سلو کې (٦٠).

۲-دماليې وزارت،په سلوکې (۲۰).

۳- د سوداګرۍ او صنايعو وزارت، په سلو کې (۱۰).

۴- د اقتصاد وزارت، په سلو کې (۱۰).

<u>د ونډې په توګه د منقولو او غير منقولو مالونو منل</u>

لسمه ماده:

د شرکت د اړتيا په صورت کې منقول او غير منقول مالونه له عادلانه بيې ايښودنې او د مديره هيئت له تصويب وروسته د ونډې په توګه منل کېداى شي.

<u>د ونډو بيه ايښودنه (قيمت ګذاري)</u>

يوولسمه ماده:

(۱) د هرې ونډې اسمي ارزښت سل زره افغانۍ دى.

<u>سهمداران</u>

مادۀ نهم:

سهمداران ابتدائی شرکت بالترتيب عبارت اند از:

۱- وزارت زراعت ،آبياری ومالداری، (٦٠) فيصد.

۲-وزارت ماليه، ( ۲۰) فيصد.

۳- وزارت تجارت وصنايع، (۱۰) فيصد.

۴- وزارت اقتصاد، (۱۰) فيصد.

<u>قبولی اموال منقول وغير منقول به حيث سهم</u>

مادۀ دهم :

اموال منقول وغير منقول در صورت ضرورت شرکت، بعد ازقيمت گذاری عادلانه و تصويب هيئت مديره، بحيث سهم قبول شده می تواند.

<u>قيمت گذاری سهام</u>

مادۀ يازدهم:

(۱) ارزش اسمی هرسهم يکصد هزار افغانی می باشد.

(۲) د ونډې د اسمي ارزښت تعدیل د مدیره هیئت د وړاندیز او د ونډه والو د عمومي مجمع د تصویب پربنسټ صورت مومي او د شرکت د ونډو په دفتر کې، ثبتیږي.

(۳) د ونډې سندونه د بیې د بشپړې ورکړې، د عامل هیئت د رئیس او سر محاسب د لاسلیک او د شرکت له مهر وروسته د ونډه وال په نوم ثبت او صادریږي.

(۴) د شرکت د ونډې سند د ونډې اسمي ارزښت، د شرکت نوم او موقعیت، د هغه شخص نوم چې ونډه ورته صادریږي او دهغو ونډو شمېر چې نوموړی سند د هغو ممثل دی، لرونکی وي.

<u>د ونډو لېږدول او د ګټې وېشل</u>

دوولسمه ماده:

(۱) د مدیره هیئت په تأیید او د ونډه والو د عمومي مجمع په تصویب د ونډه والو او نورو حُکمي او حقیقي اشخاصو ترمنځ د ونډې پېرودل ، پلورل او لېږدول مجاز

(۲) تعدیل ارزش اسمی سهم به اساس پیشنهاد هیئت مدیره وتصویب مجمع عمومی سهمداران صورت گرفته و در دفتر سهام شرکت، ثبت می گردد.

(۳) اسناد سهم بعد از پرداخت کامل قیمت ، امضای رئیس هیئت عامل وسرمحاسب ومهر شرکت، بنام سهمدار ثبت و صادر می گردد.

(۴) سند سهم شرکت حاوی ارزش اسمی سهم، اسم وموقعیت شرکت، اسم شخصی که سهم برایش صادر می شود و تعداد سهامی که سند متذکره ممثل آن است، می باشد.

<u>انتقال سهام وتوزیع مفاد</u>

مادۀ دوازدهم :

(۱) خرید، فروش وانتقال اسناد سهم بین سهمداران وسایر اشخاص حقیقی و حکمی به تائید هیئت مدیره و تصویب مجمع عمومی سهمداران مجاز بوده و بعد از ثبت در دفتر

دی اوله ثبت ورروسته دشرکت دونډو په دفتر کې، د اعتبار وړ دي.

(۲) په هغو مواردو کې چې د ونډې لېږدول د مؤجهو دلایلو پربنسټ صورت و نه مومي، مدیره هیئت د بیې په بېرته سپارنې (استرداد) لاس پورې کوي.

(۳) له ګټې څخه د کار اخیستنې ډول د مدیره هیئت په وړاندیز او د ونډه والو د عمومي مجمع په تصویب صورت مومي.

<u>له اصلي پانګې څخه ګټه اخیستنه</u>

دیارلسمه ماده:

له اصلي پانګې څخه ګټه اخیستنه، د خدمتونو د ښه والي او پراختیا لپاره ترلاسه شوې ګټه او عواید، د پورونو اړوندې ورکړې، تکتانې د شرکت د اړتیاوو مطابق د نورو لګښتونو اجراء کول د مدیره هیئت له تصمیم ورروسته صورت مومي.

<u>بانکي حساب</u>

څوارلسمه ماده:

شرکت کولای شي، د قانون د

سهام شرکت، مدار اعتبار می باشد.

(۲) در مواردیکه انتقال سهم بنابر دلایل مؤجه صورت گرفته نتواند، هیئت مدیره به استرداد قیمت سهم اقدام می نماید.

(۳) نحوهٔ استفاده از مفاد به پیشنهاد هیئت مدیره وتصویب مجمع عمومی سهمداران صورت می گیرد.

<u>استفاده از سرمایهٔ اصلی</u>

مادهٔ سیزدهم :

استفاده ازسرمایهٔ اصلی، مفاد وعواید حاصله جهت بهبود و توسعهٔ خدمات، تأدیات مربوط به دیون، تکتانه واجرای سایر مصارف مطابق به نیازمندی های شرکت بعد از تصمیم هیئت مدیره صورت گرفته می تواند.

<u>حساب بانکی</u>

مادهٔ چهاردهم :

شرکت می تواند،مطابق احکام

حکمونو مطابق، د اړوندې پانګې د ساتنې لپاره، بانکي حسابونه د هېواد په دننه او بهر کې پرانیزي.

پانګه اچونه

پنځلسمه ماده:

شرکت کولای شي، په هـر ډول خصوصي تشبثاتو کې د قـانون د حکمونو مطابق، پانګه اچونه وکړي او یا هغو ته په شرکت کې د پانګې اچونې اجازه ورکړي.

د کارکوونکو حقوق

شپاړسمه ماده:

د شرکت د کارکوونکو معاشونه او امتیازونه د مدیره هیئت په واسطه د قانون د حکمونو په پام کې نیولو. سره د شرکت د لایحو او کړنلارو مطابق، ټاکل کېږي.

د ژمنو په وړاندې مسئولیت

اوولسمه ماده:

شرکت د خپلو ژمنو په وړانـدې د موافقه لیکونو او قراردادونو په اړه د خپلې پانګې په تناسب مسئول دی.

قانون، جهت نگهـداری سـرمایۀ مربوط، حسابات بانکی را در داخل و خارج کشور افتتاح نماید.

سرمایه گذاری

مادۀ پانزدهم :

شرکت می تواند در هر نوع تشبثات خصوصی مطابق احکـام قـانون، سرمایه گذاری نموده یا به آنها اجازۀ سرمایه گذاری را در شرکت اعطاء نماید.

حقوق کارکنان

مادۀ شانزدهم :

معاشات وامتیازات کارکنان شرکت توسط هیئت مدیره با رعایت احکام قانون طبق لوایح وطرزالعمل هـای داخلـی شـرکت، تعیـین می گردد.

مسئولیت دربرابر تعهدات

مادۀ هفدهم:

شرکت در مقابل تعهدات خود بـه ارتباط موافقتنامه ها وقرارداد ها به تناسب سرمایۀ خود مسئول می باشد.

## درېيم فصل
## د شرکت تشکيلات

**تشکيل**

**اتلسمه ماده:**

(۱) شرکت جوړ دی له:

۱- د ونډه والو عمومي مجمع.

۲- مديره هيئت.

۳- نظار هيئت.

۴- عامل هيئت.

(۲) مديره هيئت د حق الحضور مستحق، نظار هيئت د حق الزحمې مستحق او عامل هيئت د معاش مستحق دي چې ددې اساسنامې د حکمونو مطابق، ورکول کېږي.

**د ونډه والو عمومي مجمع**

**نولسمه ماده:**

د ونډه والو عمومي مجمع چې لدې وروسته پدې اساسنامه کې د عمومي مجمع په نامه يادېږي، د شرکت تر ټولو لوړه واکمنه مرجع ده، لاندې دندې او واکونه لري:

## فصل سوم
## تشکيلات شرکت

**تشکيل**

**مادۀ هجدهم:**

(۱) شرکت متشکل است از:

۱- مجمع عمومی سهمداران .

۲- هيئت مديره .

۳ - هيئت نظار .

۴- هيئت عامل.

(۲)هيئت مديره مستحق حق الحضور، هيئت نظار مستحق حق الزحمه و هيئت عامل مستحق معاش می باشند که مطابق احکام اين اساسنامه پرداخته می شود.

**مجمع عمومی سهمداران**

**مادۀ نزدهم :**

مجمع عمومی سهمداران که منبعد در اين اساسنامه به نام مجمع عمومی ياد می شود، با صلاحيت ترين مرجع تصميم گيری شرکت بوده، دارای وظايف و صلاحيت های ذيل می باشد:

۱- دشرکت د مدیره هیئت او نظار هیئت دکلنیو اجراآتو د رپوټ څېړل او پدې برخه کې د تصمیم نیول.
۲- د شرکت د مالي صورت حسابونو تصویبول.
۳- د شرکت د مدیره هیئت او نظار هیئت د غړو او د عامل هیئت د رئیس ټاکل.
۴- د شرکت د مدیره هیئت د حق الحضور د اندازې ټاکل او تصویبول.
۵- د شرکت د پانګې زیاتول او کمول (تزئید او تنقیص).
٦- د شرکت د ادغام یا تللو انحلال وړاندیز.
۷- د شرکت د اساسنامې د تعدیل وړاندیز.
۸- دشرکت د ورکړل شوې پانګې په سلو کې له دېرش سلنې څخه د زیات ضرر په هکله د تصمیم نیول.
۹- دشرکت د ورکړل شوې پانګې په سلوکې ترپنځوس سلنې پورې دله منځه تللو (ضیاع) د خطر د پېښېدو

۱- بررسی گزارش اجراآت سالانهٔ هیئت مدیره وهیئت نظار شرکت واتخاذ تصمیم در زمینه.
۲- تصویب صورت حسابات مالی شرکت.
۳- تعیین اعضای هیئت مدیره و هیئت نظار و رئیس هیئت عامل شرکت.
۴- تعیین وتصویب اندازهٔ حق الحضور هیئت مدیرهٔ شرکت.
۵- تزئید وتنقیص سرمایهٔ شرکت.
٦- پیشنهاد ادغام یا انحلا ل شرکت.
۷- پیشنهاد تعدیل اساسنامهٔ شرکت.
۸- اتخاذ تصمیم در مورد ضرر بیش از سی فیصد سرمایهٔ تأدیه شدهٔ شرکت.
۹- اتخاذ تصمیم در مورد احتمال وقوع خطر ضیاع الی پنجاه فیصد سرمایهٔ تأدیه شدهٔ

د شونتيا په هکله تصميم نيول.

۱۰- د غير منقولو جايدادونو د پېر او پلور تصويبول.

۱۱- د عمومي مجمع د غونډې په اجنداء کې د شاملو نورو مسايلو په هکله تصميم نيول.

د عمومي مجمع غونډې

شلمه ماده:

(۱) د عمومي مجمع غونډې په عادي او فوق العاده ډول جوړېږي.

(۲) د عمومي مجمع د غونډې د جوړېدو لپاره نصاب، د غړو اکثريت حضور وي.

(۳) د عمومي مجمع په غونډه کې تصميمونه د غونډې د حاضرو غړو د رأيو د اکثريت پربنسټ، نيول کېږي. د رأيو د تساوي په صورت کې هغه اړخ چې د عمومي مجمع رئيس هغه ته رأيه ورکړې وي، اکثريت ګڼل کېږي.

د غونډې د جوړېدو ځای

يو ويشتمه ماده:

د عمومي مجمع او مديره هيئت

شرکت.

۱۰- تصويب خريد و فروش جايداد های غير منقول.

۱۱- اتخاذ تصميم درمورد ساير مسايل شامل آجندای جلسۀ مجمع عمومی.

جلسات مجمع عمومی

مادۀ بيستم:

(۱) جلسات مجمع عمومی طور عادی وفوق العاده داير می گردد.

(۲) نصاب برای تدوير جلسۀ مجمع عمومی، حضور اکثريت اعضاء می باشد.

(۳) تصاميم درجلسۀ مجمع عمومی به اساس اکثريت آرای اعضای حاضر جلسه، اتخاذ مـی گـردد. درصورت تساوی آرا، طرفی کـه رئيس مجمع عمومی به آن رأی داده باشـد، اکثريت شـمرده می شود.

محل تدوير جلسات

مادۀ بيست ويکم :

جلسات مجمع عمومی وهيئت مديره

غونډې د شرکت د مرکزي دفتر په مقر کې جوړېږي.

د عمومي مجمع د رئيس او منشي ټاکل

دوه ویشتمه ماده:

د عمومي مجمع رئيس او منشي په هره غونډه کې د شرکت د ونډه والو له منځ څخه د هغې د غړو د رأيو د اکثريت پربنسټ ټاکل کېږي.

د عمومي مجمع عادي غونډې

در ویشتمه ماده:

د عمومي مجمع عادي غونډه لږترلږه په هر کال کې يو ځل جوړېږي.د غونډې په اجنداء کې شامل وخت او موضوعګانې د هغې له جوړېدو څخه لږترلږه يوه مياشت دمخه، د مديره هيئت په واسطه ټاکل کېږي او د ممکنه وسايلو له لارې د غړو خبرتيا ته رسول کېږي.

د عمومي مجمع فوق العاده غونډې

څلېريشتمه ماده:

(۱) د عمومي مجمع فوق العاده

در مقر دفتر مرکزی شرکت داير می گردد.

انتخاب رئيس و منشی مجمع عمومی

مادۀ بيست و دوم:

رئيس و منشی مجمع عمومی در هرجلسه از بين سهمداران شرکت به اساس اکثريت آرای اعضای آن انتخاب می گردند.

جلسات عادی مجمع عمومی

مادۀ بيست وسوم:

جلسۀ عادی مجمع عمومی حداقل در هرسال يک مرتبه داير می گردد. وقت و موضوعات شامل آجندای جلسه حداقل يک ماه قبل از تدوير آن، توسط هيئت مديره تعيين و از طريق وسايل ممکنه به اطلاع اعضاء رسانيده می شود.

جلسات فوق العادۀ مجمع عمومی

مادۀ بيست وچهارم:

(۱) جلسات فوق العادۀ مجمع

غونډې په لاندې حالاتو کې جوړېدای شي:

۱- د مديره هيئت يا نظار هيئت په وړانديز.

۲- د عمومي مجمع د غړو د اکثريت په وړانديز.

(۲) د هغې په اجنداء کې شامله د غونډې نېټه، وخت اومطالب دغونډې له جوړېدو څخه لږترلږه لس ورځې دمخه، د مديره هيئت په واسطه ټاکل کېږي او د ممکنه وسايلو له لارې د غړو خبرتيا ته رسول کېږي.

## په عمومي مجمع کې رأيه اخيستنه

پنځه ويشتمه ماده:

(۱) د عمومي مجمع په غونډو کې رأيه اخيستنه علني وي، خوداچې د غونډې د حاضرو غړو اکثريت، د هغې پټوالی (سري والی) تأييد کړي.

(۲) د عمومي مجمع په غونډو کې هر ونډه وال د يوې رأيې حق لري.

## د تصويبونو ثبتول

شپږ ويشتمه ماده:

(۱) د عمومي مجمع تصويبونه، د

عمومی درحالات ذيل داير شده می تواند:

۱- به پيشنهاد هيئت مديره يا هيئت نظار.

۲- به پيشنهاد اکثريت اعضای مجمع عمومی.

(۲) تاريخ، وقت و مطالب شامل آجندای آن حداقل ده روز قبل از داير شدن جلسه، توسط هيئت مديره تعيين و ازطريق وسايل ممکنه به اطلاع اعضاء رسانيده می شود.

## رأی گيری در مجمع عمومی

مادۀ بيست وپنجم :

